مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: هانس کریستین اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۳/۱۶

# الوتونکی صندوق

## (Den flyvende kuffert)

## H.C. Andersen

### لومړۍ برخه



و، نه و یو دوکاندار و؛ هغه ډېر شتمن و، دومره شتمن چې کولای یې شول ټوله کوڅه په سپینو زرو فرش کړي، خو ده دا کار نه کاوه. ده خپلې پیسې هغه وخت کارولې چې ګټه به یې وه، هلته به یې کارولې چې د یوې سکې په مقابل کې پنځه سکې ترلاسه کړي. په هر صورت، دی یو دوکاندار و، تر څو چې مړ شو.
کله چې مړ شو، ټول شته یې یوازیني زوی ته ورپاتې شول. زوی یې د پلار په څېر نه و، دی یو لاس خلاصی سړی و او څومره یې چې زړه کېده، هغومره پیسې یې مصرفولې. هره شپه به د ګډا هغو محفلونو ته ورته چې خلک به له ماسک سره ګډېدل او د ورځې له خوا به یې هم له پیسو سره لوبې کولې.
د سرو زرو سکې به یې موټې، موټې سیند ته غورځولې او له دې کار نه به یې خوند اخیست. دا کارونه یې دومره وِغځول چې په پای کې یې ټول شته له لاسه ووتل او له بې شمیره شتو نه یوازې د سرو زرو څلور سکې، یو جوړه څپلکې او یو هم د خوب اوږد کمیس ورته پاتې شول.
پر هلک باندې راټول شویو ملګرو چې دا حالت ولید، ټول ورنه ولاړل، یوازې یو تن چې یو څه زړه سواندی او مهربانه و، یو زوړ صندوق یې ورته راولیږه او ورته ووې ویل چې:
په دې کې کېنه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هلک بل څه نه درلودل چې ورسره وایخلي، نو خپله، په ډار سره په صندوق کې کیناست. دا صندوق کوډګر صندوق و، داسې چې که یې کولپ مخکته کیښکودل شوی وای، نو صندوق هوا ته الوت او د مرغانو په څیر الوته.
کله چې د دوکاندار زوی په دې راز باندې پوه شو، نو د صندوق کولپ یې مخکته کیښکود او پرته له دې چې هلک پوه شي چې صندوق چیرې ځي، په هوا شو. صندوق پاس لاړ او ډیر پاس، دومر جګ شو چې له وریځو نه هم پسې ورجګ شو، دومره جګ شو چې لاندې مځکه هم وړه ورته ښکاریده. الوتونکی صندوق لاړ پسې لاړ تر څو چې د ترکانو وطن کې ښکته شو.
د دوکاندار زوی صندوق په ځنګله کې تر وچو پاڼو لاندې پټ کړ او د ښار په لوري وخوځید. په ښار کې خلکو د ده په لیدلو، هغه ته ځکه پام ونه کړ چې خلکو هم د ده غوندې اوږدې جامې اغوستې وې. د دوکاندار زوی په ښار کې ګرځیده چې یوې پرتمیني مانۍ ته ورسید. د مانۍ کړکۍ ګاڼې ډیرې لوړې اېښودل شوې وې، دی هم په میني او حیرانتیا مانۍ ته ورنږدې شو. هلته مانۍ ته نږدې له یوې ښځې سره مخ شو چې خپل کوچنی یې تر لاس نیولی و او له هغه ځایه تیریدله. هغه یې وپوښتله:
«دا مانۍ د چا ده؟»
ښځې په ځواب کې وویل:
«دا د بادشاه د لور مانۍ ده.»
پرته له دې چې د دوکاندار زوی بله پوښتنه وکړي، ښځې خبره داسې وغځوله:
«څه موده مخکې کوم فال لیدونکي، د بادشاه د لور فال لیدلی و او ورته ویلې یې وو چې کوم نارینه به ستا ربیارۍ ته راشي او تا به وغواړي، خو هغه سړی به نه یوازې دا چې دا نیکمرغه نه کړي، بلکې د هغې د نارامتیا سبب به شي، ستونزې او ویرونه به هم ورته پیښ کړي.
له هغې ورځې وروسته د بادشاه لور ځان په دې مانۍ کې زنداني کړی دی او نه غواړي چې له هیڅ نارینه سره مخ شي.»
د دوکاندار زوی له ښځې نه مننه وکړه او بیرته ځنګله ته ستون شو. خپل صندوق یې پیدا کړ، ژر یې په منځ کې کیناست، صندوق والوت، مانۍ ته یې ځان ورساوه او مخامخ د شهزادګۍ پر کوټه باندې ورښکته شو.
د دوکاندار زوي د کړکۍ له لارې د بادشاه د لور کوټې ته ورننوت. د بادشاه لور پر کوچ باندې غځیدلې او ویده وه. هغه دومره ښکلې او زړه وړونکې وه چې د دوکاندار زوی غوښتل ښکل یې کړي.



هلک چې ورنږدې شو، جلۍ راویښه شوه او د هلک په لیدلو سره سخته وډاره شوه، خو د دوکاندار زوی ورته وویل: زه په هوا کې تا ته راغلی یم، تشویش مه کوه، زه د کیسو له وطن نه راغلی یم، څو تاسو ته ښکلې کیسې وکړم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جلۍ د هلک خبره ومنله او یو د بل په څنګ کې سره کیناستل او په خبرو یې پیل وکړ. د دوکاندار زوی شهزادګۍ ته د تیارو سمندرونو، د سمندر ښاپیریو د لمبلو، په سپینو واورو پټو غرونو، قانسانو او د هغوی د ښکلو بچیانو په باب ښایسته او زړه وړونکې کیسې وکړې.
د شهزادګۍ کیسې ډیرې خوښې شوې، سمدلاسه یې هلک ته وویل:
«هوکې! د شنبې په ورځ، بادشاه او ملکه دلته زما لیدلو ته او د یو چای څکلو په پار راځي، هغوی به ډیر خوشاله شي چې پوه شي چې زه داسې یو ښه شخص سره مخ شوې یم.
مور به چای سره وڅکوو او زه به له هغوی نه وغواړم چې تاسو سره وګوري، ته به هم هغوی ته همداسې خوږې او په زړه پورې کیسې وکړې، خو پام دې وي چې د مور مې روزنیزې کیسې خوښیږي او پلار مې خندونکو کیسو سره مینه لري.»
د دوکاندار زوی وویل:
«تاسو ډاډه اوسئ!
زه به یې ښه بوخت وساتم او د یوې ښکلې ناوې په څیر ښایسته کیسې به ورته وکړم.»
کله چې دوی سره جلا کیدل، شهزادګۍ په زرینو غمیو سینګار یوه توره ورکړه، هغه څه چې هلک اړتیا ورته درلوده، اوس کولای شي هغه وکاروي.
هلک له خپل صندوق سره والوت او بیرته ځنګله ته ولاړ. ځانته یې نوي کالي واخیستل او په دې یې سوچ کول پیل کړل چې تر شنبې ورځې پورې یوه نوې داسې په زړه پورې کیسه برابره او ولیکي چې هم د بادشاه خوښه شي او هم د ملکې او دا کار څه آسانه کار نه و، خو بیا هم ده خپل کار پای ته ورساوه.
په ټاکلې ورځ ، شاه، ملکه او درباریان د چای څکلو له پاره شهزاد ته ورغلي وو. کله چې د دوکاندار زوی راغی، ښه تود هرکلی یې وشو.
ملکې هلک ته وویل:
«تاسو لکه چې مور ته کومه کیسه کوئ، نو پیل یې کړئ، خو پام مو وي چې انتباهي او روزنیزه ښه ولري.»
بادشاه هم ورغبرګه کړه:
«البته چې لږ خندونکې او په زړه پورې هم وي!»



د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ